# معلوماتي پاڼه

سارا ليستر او هيمش نيکسن
ژباړونکی: احمدالله امرخيل

مي ۲۰۰۷

## په افغانستان کې د ولاياتو د حکومت جوړښتونه له ګډوډيا څخه د سمون په لور

**په افغانستان کې د ولاياتو د حکومت جوړښتونه**

دغه معلوماتي پاڼه د ولاياتو د حکومت اساسي مسالې څرګندوي، د ولايتو د جوړښتونو د لا زيات اغيزمنتوب له پاره سپارښتنې او د عمومي سيمه ييزه حکومت د کاري چوکاټ په هکله چې دغه جوړښتونه به پکښې اداره کيږي استدلال، کوي.

### محتويات


۱. د ولايتي حکومت دارۍ له پاره کاري چوکاټ موندل
۲. د ولايتي شوراګانو رول
۳. له اخښلې سره ګډول: د ولايتو انکشافي کميټه
۴. د عامه سيمه ييزه اداري سمون
۵. د ولايتو حکومت دارۍ اوس په څه حال کې دی؟


### سريزه

د سيمه ييزه حکومت دارۍ او همدارنګه د ولايتو اداري[1] سمون، د حکومت د ليدې په نظر کې نيولو سره چې د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتيژۍ کې راغلی، بحراني ده. د ولايتي اداري په ګډون د سيمه ييزه حکومت د سمون بهير د دولت د هغه ليد د عمل کولو د پاره بحراني دی چې د افغانستان د پرمختيا په ملي ستراتيژۍ کې را نغارول شوی دی. دغه ستراتيژي او د افغانستان د موافقه ليک اړونده برخې چې د نړيوالې ټولنې او دولت دوه اړخيزې ژمنې پکې جوتې دي د دولت هغه نظر وړاندې کوي چې د ولسواکۍ، پراختيا ، د خلکو استازيتوب او د حکومت د ټولو پوړيو مسؤليت او اغيزمن توب پکې شامل دی. په داسې حال کې چې، د دغه د اجرا کولو دواړه مفصل پلانونه او عمومي کاري چوکاټ لا تر اوسه څرګند ندي او زياتې پاملرنې او قوي سياسي مشر تابه ته اړتيا لري.

په تير کال کې سيمه ييزه حکومت ډير فعاليتونه کړي دي. د **۲۰۰۵** کال د سپتمبر په مياشت کې ولاياتي شوراګانې وټاکل شوې. د واليانو به دفترونو کې د سمون د لومړي توبونو او تشکيلاتو د نوې کولو د پرواګارم د عملي کولو په ګډون په ولاياتو کې د عامه اداري د جوړښتونو او اداري اړيکو د ټينګولو او ياسمولو او به ځانګړې توګه په ولايايتونو کې د پلان جوړونې لپاره نوښتونه تر سره شوي وي. ولايت اداره د واليانو د دفترونو او يا د ولايتي پرمختيايي کميټو له لارې په ولايتونو کې د پلان جوړونې د سمون چارې پرمخ بيايز او ټاکل شوې ولايتي شوراګانې بايد د دغه بهير لپاره درامد تياکړي. په داسې حال کې هغه واسطې چې دغه کار پرې وشي لا څرګنده نه دي.

د دغو نويو او يا پيشنهاد شويو جوړښتونو اړونده مسؤليتونو ، منابعو او اړيکو اوس هم ابهام چې په قوي توګه او د هغوی د دندو په عملي کولو کې همغه سې دوام لري. په رښتيا سره، د ولاياتو د جوړښتونو له پاره کوم اساسي کاري چوکاټ نشته چې د

د ليکونکو په هکله. سارا ليستر د افغانستان د څيړنې او ارځونې په اداره کې د حکومت دارۍ او د سياسي اقتصاد لوړ رتبه څيړونکې او هيمش نيکسن د همدغه اداری د سيمه ييزه اداری څيړونکي غواړي چې له ډوګلاس ګروب، ستيفان مسينګ، ايريک ريچارډسن او د خپلې د اداری له کارکوونکو څخه د دغې پاڼې د لمړنې مسودې په هکله د ويناوو او د بين المللی انکشاف برتانيوی ډيپارټمنت څخه د دغې څيړنې د تمويلولو له پاره مننه وکړي.

[1] په دغه ځای کې د "سيمه ييزه حکومت دارۍ" اصطلاح (رسمي او غير رسمي) موسسو او پروسو ته چې د هغه له لارې پريکړې په ښاريونو باندې (سره د منابعو او د خدماتو د رسولو د تخصيصاتو) چې د ملي کچې څخه په ټيټه کيږي ، اغيزی ته، وايې. "د ولاياتو حکومت" د دولت رسمي جوړښت او رسمي ټاکل شويو ادارو ته وايې. "سيمه ييزه اداره" د واليانو دفترونه، د اړونده وزارتونو او نورو دولتي ادارو او کميسيونونو د ولاياتو رياستونو ته وايې. لکه د اداری سمون او مدني ټولنې د خدماتو ناپايېلې کميسيون.

حکومت په لید کې چې د افغانستان د ملی انکشاف موقته ستراتیژی له خوا جوړ شوی دی سم شی.

لاندنی پوښتنې په خاصه توګه، د پام وړ دی:

- *د بیلا بیلو دولتی موسسو او د دولتی سطحو کې، منابع، او مسؤلیتونه د پرمخ تللی سیمه ییزه حکومت داری موخی چې د افغانستان د ملی انکشاف موقته ستراتیژی له خوا تاکل شوی دي څه دی؟ دغه به نه یوازی په اداره او پلان جوړولو پوری اړه لری بلکه د خدماتو په رسولو پوری هم تړلی وه.*
- *د ولایاتو د کچو برخه په انکشافی پلان جوړونه کې څه ده؟ دغه باید د ولایاتو د پلان جوړونی، د هغو د موخی او د بودجی له پروسی سره د هغو د اړیکو منل شوی تعریف ولری.*
- *د راز راز سیمه ییزه ادارو تر منځ اړیکی څه شان دی؟ دلته د ولایاتو د تاکل شویو شوراګانو او د ولایاتو د اداری او د ولایتی د شوراګانو او د ولایاتو د انکشافی کمیټو تر منځ اړیکی باید څرګنده شی.*

د ولایاتو په پلان جوړونه او حکومت داری کې د ولایاتو د جوړښتونو اغیزمنتوب ممانعت د هغو د برخو او د مسؤلیتونو د څرګندوالی او نظرونو د موافقی د نشتوالی څخه کیږی.

د دغو پوښتنو د ځوابونو له پاره د عامه پوهاوی نشتوالی په دوو ساحو کې لیدل کیږی. لمړی، څرګنده نه ده چې د ولایاتو راز راز جوړښتونه د انکشافی فعالیتونو په پلان جوړونه کې څنګه برخه واخلی. د ولایاتو انکشافی کمیټو او د ولایاتی شوراګانو ته داسی تاکل شوی ده چې په پلان جوړونه کې مرسته وکړی، خو اداری او مالی جوړښتونه چې کولای شی د ولایاتو پلانونه د حکومت د لګښتونو د څرګندولو په اړه هدفمند کړی، نشته. تر څو چې دغه مساله حلیږی، په اوږد مهال کې به د دغو ترتیبونو په اغیزمنتوب او خصوصاً د مشروعیت پر ضد وی فوراً عملی کړی.

دوهم، د ولایاتو د راز راز جوړښتونو د رول د لوبولو په هکله د نظریو د موافقی نشتوالی چې د هغو د روزلو او د اصلاحاتو په هڅو باندی اغیزه کوی. د سیمه ییزه اداری سمون هڅی او د ولایتی شوراګانو جوړول او سمبالول ښایې چې د دولت اغیزمنتوب او اعتماد رامنځ ته کړی، دا لا تر اوسه څرګنده نده چې د دغو هڅو موخه څه دی.

د دغه شان کاری چوکاټ د انکشاف سره د مرستی له پاره خاصی سپارښتنی په دی ډول دی:

- *دولت باید د وزارتونو تر منځ د لوړی کچې دفتر چې د سیمه ییزه حکومت او اداری اړونده مسألو په اصلی ټکو باندی او یو څرګنده لارښود تیار او جوړ کړی. دغه دفتر یا اداره باید د افغانستان د ملی پرمختیا ستراتیژی د روان بهیر سره په هم غږی کې په آزاده توګه د پوښتنو راپورته کولو د پاره سیاسی ملی ماتړ ولری.*
- *د حکومت داری له پاره باید یوه مشورتی ډله جوړه شي تر څو د افغانستان د ملی انکشاف د موقته ستراتیژی په پایه کې او د افغانستان د تړون اجراتو او کنټرول باندی باید نظر وکړی. دغه به د ولایاتو او سیمه ییزه کاری ډله ولری. د دغو ادارو د رجو شرایط باید چې څرګند وي او د مشورتی ډلی د پیشنهاد شوی سمون د لاری باید ډاډه شی چې دغه یوه فعاله او کاری ډله ده.*

## ۱. د ولایاتو د حکومت دارۍ له پاره د کاري چوکاټ موندنه

د **۲۰۰۵** کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداري یوې معلوماتي پاڼې اساسي موضوع ګاني چې په محلي حکومت کې باید په نظر کې ونیول شي، معرفي کړې[2] چې څلور اصلي مسألې پکې په ګوته شوې دي:

- د سیمه ییزه حکومت د یو تولیزه لید نشتوالي، دا مسأله چې ایا غیر مرکزي کول به د افغانستان له پاره کومه معنا ولري که نه؛
- د سیمه ییزه ټاکل شویو ادارو تش قوت، منابع، او اړیکو نا څرګندوالی؛
- د رښتنې او یا پیشنهاد شوي انسجام او د ولایاتو د پلان جوړونې د جوړښتونو دوه ګوني کول؛ او
- په سیمه ییزه کچه د عامه اداري د سمون ستونځې.

دغه ټولې مسألې په افغانستان کې د سیمه ییزه اداري د انکشاف له پاره اساس پاتې کیږي، او دغه پاڼه د تیر کال د پرمختګ او داچې د هغو په شاه و خوا کې بهرنی لاملونه، ادراک، او پوهاوی بدلون موندلی، او سیمه ییزه حکومت ته د نوي پام لرنې په شرایطو کې اساسي مسألې معرفي کوي.[3]

د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتیژۍ او د افغانستان موافقت لیک د عامه اداري اوس محاله کمزوري په ښکاره توګه په رسمیت پیژني او خصوصاً په سیمه ییزه کچه، او د سیاسي او انکشافي اهدافو په بشپړولو کې د سیمه ییزه حکومت اهمیت څرګندوي. هغوی د ولایاتو په کچه د انکشافي پلان جوړونې، انسجام او نماینده ګۍ د جوړښتونو د جوړولو او پرمختګ له پاره خاص نسبت ورکوي.

دغه اسناد او پیچلې پروسې چې پرې موافقه شوې ده دا کوښښ شوی دی چې حکومت د دغو مسألو مسؤلیت په غاړه ولري او د بسپنه ورکوونکو پام یې دغې ستونځې ته را واړوي. د طالبانو د سقوط څخه وروسته دا اول ځل دی چې د حکومت او د بسپنه ورکوونکو تر منځ نه یوازې داسې یو نظر شته چې د سیمه ییزه حکومت له مسألې سره باید جدي برخورد وشي، بلکه اعلان شوې چې ژمنې سرته ورسیږي.

څنګه چې په وروستۍ مخ کې لمړي چوکاټ ښیې چې، د افغانستان د ملي انکشاف د موقته ستراتیژۍ او د افغانستان د موافقت لیک د سیمه ییزه حکومت لید د تولیزه طرحې نه بهر دی، او دغه باید بې له دې چې د هغوی منشا، د سرمایې ترتیب یا میکانیزمونو په نظر کې ونیول شي، د راتلونکو کوښښونو د پاره ملاتړ وي.

د سیمه ییزه حکومت دارۍ مسألې ته وروستنۍ خاصه پاملرنه د حکومت د بې ساري مرکزي او عمودي جوړښتونو د پردې شاه ته تر سره کیږي. بودجې په مرکز کې او په سکتوري ډول په کابل کې ټاکل کیږي، او بیا ښکته د وزارتونو له لاری ویشل کیږي، په داسې حال کې چې ګومارنې او راپور ورکول حد اقل په رسمي توګه له همدغو لارو لوړو مقامونو ته د تصویب له پاره ځي. دا چې د مالي وزارت څخه د څومره سرمایې غوښتنه وشي، څومره یې ولایاتو ته اختصاص ورکړ شي، او همدارنګه د بیلابیلو ولایتونو تر منځ د سرمایې د ویشنې پریکړه په کابل کې د وزارتونو کارکوونکې کوې. اوس یو څه اختیاري سرمایه د ولایاتو د مقامونو له پاره او حتی د ولسوالیو د مقامونو له پاره لا یو څه کمه سرمایه، موجوده ده.[4]

د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتیژۍ وضاحت ورکوي چې د "حد څخه زیات مرکزي توب" سره ستونځه ده "که څه هم له مرکز څخه سیمو ته د خاصو دندو د ویشنې بحث په لمړنۍ مرحله کې دی". چې "د وخت په تیریدو سره ښایي چې د ځنې پالیسي جوړونې او د بودجې مسؤلیتونو د ویشنې او یا له تمرکز څخه ایستنه په یوه ا ندازه، د اغیزمنتوب او د سیمه ییزه مسؤلیتونو د زیاتوالی له پاره په نظر کې ونیول شي. (لمړی ټوک، **۵۹**، **۱۵۸**مخ)". دغه د مرکزیت د ویشنې

[2] سارا لیستر، **۲۰۰۵** کال، د ابهام په قلمرو کې په افغانستان کې د ساحوي حکومت جوړښتونه، کابل، د افغانستان د څیړنې او ارځونې اداره.

[3] دغه تهلیل د دغو مسألو په شاه او خوا کې په څیړنه او پالیسي کې د لیکونکې د تیر کال د کار، سره د سیمه ییزه حکومت له پاره مناسب او قانوني کاري چوکاټ پر بنسټ او د ولایاتو د انکشافي شوراګانو، او د دغو شوراګانو د رول د مشورې پر بنسټ ولاړ دی.

[4] ایوانس، منینګ او داسي نورکسان، **۲۰۰۴** کال، په افغانستان کې د حکومت یو لاربنود، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارځونې اداره/نړیوال بانک؛ ایوانس او منګ او داسي نو کسان، **۲۰۰۴** کال، په افغانستان کې سیمه ییزه اداره، د عمل له پاره براورد او سپارښتنې، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارځونې اداره/نړیوال بانک؛ او ایوانسانو او یاسین عثماني، **۲۰۰۵** کال، د پرمختګ ارځونه: د افغانستان د سیمه ییزه اداري په باب نوی راپور، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارځونې اداره/نړیوال بانک

**لمړۍ چوکاټ. د ملي انکشاف په موقته ستراتیژۍ او د افغانستان په موافقت لیک کې سیمه ییزه حکومت**

د افغانستان له پاره د همدغه هیواد د ملي انکشاف د موقته ستراتیژۍ سیاسي لید په ۱۴۰۰م کال کې د سیمه ییزه حکومت له پاره د یو اوږد مهاله لید لاندني عناصر په بر کې لري:

- داسي یو هیواد چې موسسې یې د غریبو خلکو په مخه زیاتي باوري او مسؤلي وې، او د هغوی د جنسیت او اجتماعي حالت په نظر کې نیولو څخه پرته په سیاسي پروسو کې او محلي یا سیمه ییزه پریکړو کې د هغوی برخه اخیستنه قوي کړي.
- داسي یوه ملي شورا چې د ولایاتو او ولسوالیو د ټولو اړتیاوو او ګټو وړاندیز په ملي کچه داډه کړي.
- د اساسي قانون (۱۴۰-۱۳۸مي مادې پورې) سره سمې ملي، د ولایاتو، ولسوالیو او کلیو په کچه ټاکل شوې شوراګاني.
- د دولت په ټولو کچو د اغیزمنه، باوري او شفافه اداره سره د یو ناویشلي سیستم
- د ولایاتو او ولسوالیو اداري چې د ملي انکشاف رومبی توب انسجام د ښې راتلونکې هیله عملي کړي
- ښځې به په قانوني توګه د افغانستان په ټولنه او سیاست کې زیات اغیزمن رغ جوړ کړي
- یو فعاله فزیکې او سازماني عدالتي کاري چوکاټ چې په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کې د ښاریونو له حقوقو څخه په پوره توګه ساتنه وکړي (د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتیژي، لمړی ټوک، ۱۲-۱۵مخ).

د دغه لید په مرسته، د افغانستان د ملي انکشاف د موقته ستراتیژۍ ښه حکومت او د قانون څواکمني په لنډ مهال کې لاندني هدفونه لري:

- "تر څو د اوسني ولسمشرۍ او ملي شورا د دورې په پای کې د بشر د لا ښه پرمختګ له پاره په ملي، د ولایاتو، ولسوالیو او د کلیو په کچه اساسي اداري او ډیموکراتیکه شیوې جوړې کړي." (د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتیژي، لمړی ټوک، ۱۵ -۱۲مخ)

دغه هدفونه د افغانستان په موافقت لیک کې حمایه شوي دي چې افغانستان او بین المللي ملګرو ته یې لاندني مسؤلیتونه ور په غاړه کوي:

- په هر ولایت کې چې اداري – سره د مدني اداره، پولیس، بندي خانې، او عدلي اداري فعاله دي، هغو ته د انسجام د جوړوني رومبي توب ورکړي؛
- د راتلونکې ټول ټاکنو له پاره د مالي او اداري لهاظ څخه ټینګه اداره جوړه کړي؛
- "د ټولو لوړ رتبه ګمارنو، او همدارنګه د ولایاتو د والیانو، د پولیسو مشر، ولسوالانو او د ولایاتو د امنیتي ادارو د مشرانو د ګمارنې له پاره" د ګمارنې روڼ او څرګنده میکانیزم د ۲۴ میاشتو به اوږدو کې جوړ کړي؛
- د ۲۰۰۷ کال په وروستیو کې، "د مالي ټینګښت سره د مرستې په موخه د اداري واحدونو شمیره او د هغو کاري محدودیت وټاري" (د افغانستان موافقت لیک، ۲-۳مخ)

لمړنی. حساسه وضعه به د څارونکو له پاره زیاته خوښونکې ښکاره شي، خو لا تر اوسه د حکومت له خوا په عامه توګه څرګنده شوې نه ده.

سره له دې چې، په دواړو اسنادو کې د سیمه ییزه حکومت په اړوند یو شمیر غوره معیارونه ذکر شوي وو، خو د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ او د افغانستان موافقت لیک چې څنګه بیلا بیل جوړښتونه سره هماهنګ شي، مشخص مضمون نه وړاندې کوي، او نه هغوی د دې له پاره چې څنګه کیدای شي دغه شان کاري چوکاټ پراخ شي یو بنسټ نه تیاروي. په بدل یې، هغوی یوازې داسي لیکې چې دولت به د مرکزي، د ولایاتو او د ولسوالي اداري د دندې وټاري (لمړی ټوک، ۷۱مخ). د سیمه ییزه حکومت د کاري چوکاټ د څیړنې او توضیع څرنګوالي معلوم نه دی.تر څو چې د مرکزیت او د مرکزیت د ویشنې آزاده بحث پیل کیږي، د دغه شان کاري چوکاټ اساسي عنصرونه به غایب وي.

## د ولایاتو د حکومت یو کاري چوکاټ ته اړتیا

د څنو کاري ډلو او نورو پروسو چې په تیر کال کې پیښې شوې، زیاتره یې ګټې وې، د بیلګې په توګه د ولایاتو د انکشافي کمیټو د جوړوني په هکله مشورې، او همدا رنګه متناقضه طریقې چې بیلا بیلو وزارتونو او فعالینو اتخاذ کړې دي، د یو روښانه کاري چوکاټ د نشتوالي له کبله چې بیلابیل نوښتونه او لومړیتوب چې د هغه له لاریسره یو ځای او یو پر بل پورې وتړل شي، په دې اړه له یو روښانه لارښود پرته به بیلابیل پروګرامونه او وزارتونه به خپله خوښه پلان جوړونه پرمخ بیایي. خو بیا هم، کله چې هغوی کوښښ کوي چې نور کسان په پلان جوړونه کې نامزد کړي هغوی له مقاومت سره مخامخ کیږي، او په زیاتو مواردو کې

سستي او یا د کار د نه بشپړیدو سبب کیږي. دغه نښه په بیلا بیلو شرایطو کې لیدل شوې ده.

سم دلاسه څرګنده نده چې داسې یو کاري چوکاټ چیرې رامنځته شي، څکه چې د حکومت په چوکاټ کې د دغه شان فعالیتونو له پاره ټاکلي ځای نشته. د کورنیو چارو وزارت، د اقتصاد وزارت، د مدني خدماتو کمیسیون، د مالي وزارت او همدارنګه نور اړونده وزارتونه او حکومتي اداري په سیمه ییزه حکومت کې برخه لري او اوس داسې فعاله میکانیزمونه نشته چې دغه مباحثه په یوه ځای کې او په آزاده توګه، راغونډه کړي.

د بسپنه ورکوونکو له خوا، د یو ستراتیژیک کاري چوکاټ نشتوالي څخه منظور دا دی چې د انسجام معمولي ستونځې لا ژورې شوي دي. په ځنو حالاتو کې، حتی د هغو پروګرامونو تر منځ چې د یوه بسپنه ورکوونکې له خوا تمویلیږي، منل شوی موخې ته د رسیدو له پاره په سمه طریقه د معلوماتو او د کار د ویشلو بې میلې موجوده ده.[5] خو بیا هم، د بسپنه ورکوونکو د انسجام د پرمختګ له پاره وروستنې محدوده کوښښونه چې د متحده ایالاتو او ملګرو ملتو نماینده ګۍ پکښې شاملې دي، باید چې تشویق شي او نورو سازمانونو ته ور وغزول شي. بې له زیات انسجام او یو حکومتي ځای څخه، بین المللي سازمانونه داسې هڅې کوي چې له هغو وزارتونو یا نماینده ګیو سره د زیات ظرفیت په موجودیت په کار کې یو ځای شي، نه دا چې له هغو سره چې د یو ځای کیدو ژوره بولې لري. هغه وزارتونه چې باید په دغه مباحثه کې مرکزي برخه ولري، له دیرو مباحثو او پلان جوړونو څخه په حاشیه کی پاتې دي. او اغیزه یې د وړاندیزونو او پروسو پرمختګ کې پراخ سیاسي مشروعیت نلري او څکه یا د تصویب په پروسه کې او یا په بشپړیدو کې یې خنډ راغلی دي.

د سیمه ییزه حکومت له پاره د یو ټولیزه کاري چوګاټ نشتوالي په خاصه توګه د ولایاتود پلان جوړونې په مباحثو کې څرګنده دي. دغه مباحثي زیاتره په پلان جوړونه کې د سیمو تر منځ زیاتیدونکی ګډون د تیوریکی ګټو او یا په ولایاتي کچه د فعالیتونو د ښه سمون د اړتیا پر شاخوا راټولې دی. په هر حال دغه نظریې بیا د عمل جامه نه اغوندي او په تشه کې پاتې کیږي، بې له دې چې داسې بحث وکړي چې له دې بحث

څخه پرته چې په پلان جوړونه کې څه بیلا بیلې طریقې به د حکومت په ټولیزه جوړښتونو په خاصه توګه د بودجې اوسنی پیشنهاد شوی پروسه کې برابرې شي که نه. حتی که د ولایاتو د کچې د پلان جوړونې د زیاتیدونکې ابتکار وړاندیزونه د ولایاتي شوراګانو او د ولایاتو د پراختیا د کمیټو له لارې بشپړ شي، د ولایاتو په کچه د مقاماتو له پاره څرګنده میکانیزم نشته چې وشي کولای له بودجو سره تړلي د پرمختګ پیاوړې پلان چې د ولایاتو په کچه د سکتوري اولویتونو تر منځ توپیر څرګندوي، وړاندې کړي. د بیلګې په توګه، د ولایاتو یو پلان ښایې دا وشي ټاکلی چې د روغتون په ځای منابع یو ښوونځي ته اختصاص ورکړي، خو د بودجې جوړښت د ولایاتو په کچه دغه شان معاملې ته اجازه نه ورکوي.

مالومه نده چې له کومو سرچینو څخه به د ولایاتو (ولسوالیو) پلانونه تمویل شي او یا دغه پلانونه د هر ډول شفافیت په لرلو سره څنګه کولای شي چې د ملي پلان جوړونې له پروسې څخه تغذیه وکړي. پرته له نوموړې د جوړښت سمون چې دا ډاډه کړي چې پلانونه د پریکړې کولو له پروسې څخه د بودجو په لرلو سره سرچینه اخیستلی شي، د ولایاتو د پلان جوړونې پیژندګلوی په ژوره توګه د وخت، پیسو او د برخه اخستونکو خلکو د خوښۍ، ضایع کول دي. او همدارنګه دغه مساله خلکو ته د حکومت په هکله د بې کفایتۍ د بدې مفکورې د را پیدا کولو خطر هم لري.

د پوهیدو وړ ده چې اوس د دې په هکله چې آیا د ولایاتو سرمایه به د ۱۳۸۷ کال په ملي بودجه کې ګډه شي که نه، مباحثې رواني دي. خو لا مالومه نده چې دغه وړاندیز به په حکومت کې ستره موافقه تر لاسه کړي، خو که چیرې دغه له اړونده سمون او د بودجې له پروسې سره تړلې وي ښایې چې دا به د ولایاتو په کچه د پلان جوړونې د پیل موقع وړاندې کړي. خو بیا هم د ولایاتو د ثبات د سرمایې (چې د افغانستان د ثبات د سرمایې یوه برخه ده) له ناکامۍ څخه باید سبق واخستل شي، چې زیات واک یې د والیانو په دفترونو کې وو. حکومت د ټیټې کچې د پلان جوړونې د جوړښتونو او د اوسنی د بودجې د مرکزي میکانیزمونو ماتي اړیکې پیژندلې دي. د بیلګې په توګه د افغانستان د ملي انکشاف موقته ستراتیژۍ داسې یادونه کوي چې:

"سیمه ییزه بودجه او د انسجام مسؤلیتونه نا متیقنه پاتې کیږي. څکه چې اکثره خدمات په محل کې برابریږي، د ولایاتو (او په اوږد مهال کې، د ولسوالیو)

[5] شخصي تفاهم، دوه اړخیزه بسپنه ورکوونکې، د ۲۰۰۷ کال د فبروري لومړۍ نیټه.

له ادارو سره د بودجې د جوړولو او اجرا کولو د مسؤلیتونو او همدارنګه د عایداتو او لګښتونو د دوارو د څارنې په اړوند، د سلا او مشورې اړتیا موجوده ده.'' (لمړی ټوک، **۱۵۸** مخ).

او اوس دا ډیره زیاته مهمه ده چې د حکومت د سیمه ییزه کچې مسؤلیتونه چې د افغانستان د ملي انکشاف موقتی ستراتیژۍ کې په ګوته شوي دي ژر تر ژره او د بیلا بیلو وزارتونو او برخه لرونکو په مرسته په غاړه واخستل شي. د د غه کار له پاره، د حکومت په چوکاټ کې د وزارتونو تر منځ د یو کمیسیون د جوړولو پیشنهاد شوی مفکوره چې د سیمه ییزه حکومت تولیزه لید ته انکشاف ورکړي، اغیزمنه ده، او د دغو مباحثو له پاره به لازم ځاي برابر کړي. د پراخ ابتکار له پاره موقع هم د افغانستان د ملي انکشاف د بشپړه ستراتیژۍ په هکله چې په **۰۷-۲۰۰۲** کلونو په بهیر کې د پیښیدو په حال کې ده، د ولایاتود سلا او مشورې له خوا وړاندې کیږي.

او دا هم ډیره مهمه ده چې د افغانستان د موافقت لیک او د افغانستان د ملي انکشاف د موقته ستراتیژۍ د حکومت دارۍ اړونده تدارکاتو د څارنې له پاره مناسب میکانیزم په چټکې رامنځته شي او په کار واچول شي. د انکشاف په ملي ستراتیژۍ کې او سنې پیشنهاد چې د حکومت له پاره دی یوه مشورتي ډله وي، لازمه ده چې عملي شي، او د یوی کاری ډلې له لاری باید د حکومت د بیلا بیلو کچو په دندو کې قوی شي. نظریه باید ورکړل شي چې څنګه کیدای شي چې دغه اداري او د وزارتونو د منځ کمیسیونونه، په انفرادی ډول وزارتونه، پارلمان، او سیمه ییزه اداري چې د څارنې د دندو مسؤلیت په غاړه لري، لکه د ولایاتي شوراګانې، سره وتړل شي.

## ۲. د ولایاتود شوراګانو د دندو برخه

د **۱۳۸۴** کال د لړم په میاشت کې د افغانستان د ولایاتو**۳۴** ټاکل شوی شورا ګانی د دی له پاره چې خپل مسؤلین وټاکی سره را غونډې شوې. دوه ورځې وروسته هری شورا خپل دوه غړی د مشرانو جرګې له پاره وټاکل[۶] د افغانستان د لمړی سیمه ییزه موسسو جوړونه د **۲۰۰۱** کال د بن د موافقت لیک د شرطونو یوه برخه پر ځاي کوی، او د دولت د جوړولو په پروسه کې یوه خاصه بشپړتیا څرګندوی. خو بیا هم مخکې له دی چې ولایاتي شوراګانی د راولاړ شوي دیموکراتیک نظام یوه فعاله او قانوني برخه جوړه کړی، لازمه ده چې یو لړ مسألې حل شي.

### د ولایاتود شوراګانو دندې

د **۲۰۰۵** کال په اوږدو کې د افغانستان او بین المللی دولتی او نا دولتی فعالینو پراخه مشورو د ولایاتود شوراګانو رول په پام کې ونیوو. په پای کې، کابینې دغو شوراګانو ته په ولایتي کچه پرمختیایې پلانونو په اړه د سلا او مشورې او په ولایتي ادارو کې د څارنې دندې وسپارلې. سره له دی چې اساسي قانون، د ولایاتي د شوراګانو قانون چې د **۱۳۸۴** کال د زمری میاشت په **۲۴**مه نیټه د کابینې له خوا تصویب شول او اړونده مقررات یې په پراخه توګه چې دغه نتیجه یې د شوراګانو د موخې او د دندو په تعریف کې څرګندی، د دغو کوچنیو دندو د اغیزمن فعالیت تر مخې خاص خنډونه موجود دي. دغه خنډونه پکښې شامل دي؛ د شوراګانو د استازې توب له اساساتو سره ستونځې، د شوراګانو د دولتي دندو د اجراکولو له پاره ناڅرګنده میکانیزمونه او څنګه چې مخکې هم پرې بحث وشو د ولایاتود شوراګانو له پاره د یو تولیزه کاری چوکاټ نشتوالی.

نو څکه خو د ولایاتو له پاره په پام کې نیول شوی دندی په دریو پراخو ساحو کې راځي:

- *د ولایاتود انکشاف په پلان جوړونه کې برخه اخستنه.* د ولایاتوشوراګانې باید چې له خلکو سره مشوره وکړي، او د ولایاتود انکشاف د اهدافو په څرګندولو او د انکشافي پلانونو په طرحه کې برخه واخلي. دغه دنده کیدای شي چې د شوراګانو د لومړنی رول په شان وګڼل شي، او دا تصور څرګندوی چې له خلکو سره سلا او مشوره نه یوازې په طبیعي ډول خوشالوونکي ده خو د لا ښه انکشافي پلان جوړوني له نتیجو سره مرسته کوي.
- *د ولایاتوحکومتي نورو ادارو څارنه او ارځونه.* او دا یعنې: "د قانون ټینګول، په هغو ساحو کې چې آزادي نشته'' او له شوراګانو څخه دا غوښتنه هم

[۶] دوهم کاندید د موقته کرسی له پاره وټاکل شو چې که چیری د ولسوالیو شورا ګانې جوړې شي او د مشرانو جرګې له پاره خپل نماینده وټاکي نو هغه به د دغو ټاکل شویو کسانو پر ځاي ګمارل کیږي، څنګه چې د اساسي قانون **۸۴**مه ماده دغه شان غوښتنه کوي.

شوی ده چې د ولایاتوله والیانو سره لیدنه وکړی، د اداری سیستم د فعالیتونو په هکله معلومات تر

**دوهم چوکاټ. د ولایاتو د شوراګانو قانون**

**دوهمه ماده**

د ولایاتو شوراګانی به د ټاکل شویو غونډو په شان کار کوی او هدف یې دا دی چې د ولایاتو په کچه د خلکو او مدنی ټولنی د ادارو له دولتی اداری سره د ونډه اخستنی او ګډون یو جوربښت رامنځته کړی، او د ولایاتو دفاترو ته په اړونده چارو کې مشوری ورکړی.

**څلورمه ماده**

د ولایاتو شوراګانی لاندنی دندی او صلاحیتونه لری

۱. د اقتصادی، ټولنیزه، روغتیا، ښوونی ا و روزنی او د بیا رغونی په ساحو کې او د ولایت په نورو چارو کې د دولت د انکشافی اهدافو په څرګندونه کې برخه اخستنه
۲. د ولایاتو د مالی منابعو د اغیزمنه لګولو له پاره مشوره ورکونه
۳. د اصلاحی جرګو له لاری د نژادی او محلی اختلافاتو په اوارولو کې برخه اخستنه
۴. د ولایاتو د انکشافی پلان جوړونی او اټکل شویو پلانونو په هکله دولت ته د وړاندیز څخه مخکی مشوره ورکول
۵. د قانون او شریعت پر خلاف د دود او دستور(لکه: اجباری ودونه، په بد کې د ښځو ورکول او داسی نور) له منځه وړلو کې برخه اخستنه
۶. له هغو سیمو څخه کتنه چې د ازادی له نشتوالی سره مخامخ دی، د سیمی د مقاماتو په اجازه، د قانون او حقوقو د اړولو د ادارو د کار تحلیل او ارځونه او په دغه هکله د ولایاتو اداری سیستم ته راپور ورکول
۷. د نشه یې توکو د استعمالولو د خطر په هکله خبرتیا او د خلکو او ادارو، چې د نشه یې توکو پر ضد کامپاین کې بوخت دی، د پام د جلبولو له لاری، د نشه یې توکو د کرنی، د پوډرو او تریاکو او مخدراتو د تولید، او د هغو د اعتیاد په بندولو کې په فعاله او اغیزمنه توګه برخه اخستنه
۸. د ولایاتو د اداری او اړونده دفترونو د اجراتو او د کاری پلان په هکله معلومات تر لاسه کول
۹. د ولایاتو د اداری د انکشافی پلان او د کلنی لګښتونو د پروسی ارځونه او د ټولیزه رسنیو له لاری د اړونده ولایت او سیدونکو ته د راپور تیارول
۱۰. لږ تر لږه په دریو میاشتو کې یو ځل د ولایت له اوسیدونکو سره په عمومی مشورتی غونډو کې سلا او مشوره کول، او له والی او د اړونده ریاستونو له مقاماتو سره د میاشتی یو ځل

لاسه کړي، او د هغو موندني خلکو ته ور ورسوی.

- *دښځو د اوارولو او په دریو یو بل سره تړلو فعالیتونو کې برخه اخستنه، د هغو رواجونو محو کول چې د قانون، شریعت او د بشر د حقوقو پر خلاف دي او د نامشروع نشه یې توکو د فعالیت کمول* دا په دی معنی چې د قانون په وینا، ولایاتی شوراګاني باید د اصلاح کوونکو جرګو له لاری د مناقشو د حل له پاره کار واخلي، او د خاصو رواجونو د له منځه وړلو سره مرسته وکړی او د نشه یې توکو پر ضد کوښښونو څخه حمایت وکړي.

خو بیا هم د قانوني کاری چوکاټ په دغو دریو عمومی ساحو کې د دندو د بشپړولو له پاره لازمه میکانیزمونه په زیاته اندازه نا څرګنده پریږدی.

## په انکشاف پلان جوړونه کې برخه اخیستنه

په انکشافی پلان جوړونه کې د ولایاتود شوراګانو د مرستي په اړوند یو لړ مسألي دي چې پام ته اړتیا لری:

- *د یو کاری چوکاټ نشتوالی چې، د ولایاتو پلان جوړونه او له بودجې سره د هغو اړیکی تعریفوی* څنګه چې پورته روښانه شوه، څرګنده کاری چوکاټ چې د هری اداری، په شمول چې د ولایاتو د شوراګانو د ونډه روښانه کړی، موجودی نه دی.

- دا په خاصه توګه ضروری ده چې د شوراګانو او د ولایاتود انکشاف پیشنهاد شوی کمیټی او نوری اداری چې د ولایاتود پلان جوړونی مسؤلیت په غاړه لری، تر منځ اړیکی روښانه شي، چې وروسته په دغه پاڼه کې پری بحث شوې دي. د داسی خاصو لارو له پاره اړتیا لیدل کیږی په کومو کې چې د ټاکل شویو شوراګانو ابتکار د ولایاتود پلان جوړونی په پروسه او هغو میکانیزمونو کې چې دغه ابتکار په کار اچوی، ارزیابی کوی او عامه خلکو ته یې وړپیژنی. کولای شو ووایو چې پرته له دی څخه د ولایاتی شوراګانی به د غړو او د رای ورکوونکو په سترګو کې د خپل مشروعیت له خطر سره مخامخ کړی. د مشخصاتو بشپړ نشتوالی او د ولایاتود غړو وروستنیو وړاندیزونو چې هغوی باید انکشافی پلان جوړونی باندی د هغوی تصویب شوي قدرت د اړیکو اساسات جوړ کړی، ترمنځ مصلحت – ښایي د ولایاتود انکشاف د کمیټي په هکله د

ټولیزې او یا د ولایتي شورا یوې برخې له لارې جوړ کړي.

- *د ولایاتو د شوراګانو موجود مشورتي میکانیزمونه نا څرګنده دي.* د قانون غوښتنه داسې ده چې شوراګانې باید د ولایتو له اوسیدونکو سره هر درې میاشتې یو ځل د سلا او مشورې له پاره وګوري، خو نه قانون او نه مقررات د دغه کار میکانیزمونه یا لارې څرګندوي. د ولسوالیو او د کلیو د استازې توب راتلونکي اداره به په خاص ډول د دغو مشورتي میکانیزمونو په وروستني. بڼه باندې ولاړ وي. د ملي سیمه ییزه د انکشافي پروګرام (چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت له خوا اداره کیږي) د اوسني حالت وړاندیزونه د ولسوالیو له کچې څخه د ړومبي توبونو په یو لاس کولو کې د ولایاتو د شوراګانو رول په نظر کې نیسي.

- *نماینده.* او په خاصه توګه د ولایت پر بنسټ د ټول ټاکنو د یوې نه لیږدونکې د رایې ورکولو سیسټم، په دې معنا چې یوه شورا به د ولایت له ټولو ولسوالیو څخه غړي ونلري.[7] د انکشاف په پلان جوړونه کې د ولایاتو د حالت د پوره حدود د انعکاس د ډاډه کولو له پاره د ساتنې پر بنسټ د ټول ټاکنې سیسټم ښایي چې زیات د منلو وړ وي.[8]

## څارنه او ارځونه

د ولایاتي شوراګانو دوهمه تر ټولو لویه د کار ساحه د ولایاتو د اداري څارنه او د کار ارځونه ده. خوبیا هم د دغه رول د اغیزمن تیاری له پاره یو څه مسالې پر ځای پاتې کیږي:

- *د قانون او مقرراتو سره سم کاري چوکاټونه د څارنې په ډندو کې د ولایاتو د اداري مرسته نه تضمینوي.* د ولس مشر ۴۱۱۲ حکم غوښتنه کوي چې د ولایاتو والیان باید "فعالیت وکړي" او د ولایاتو د شوراګانو په مرسته پروګرامونه طرح، اداره او اجرا کړي. په دې سربیره بیا د ولایاتو د کرنلاري قانون ا و مقررات بیا د والي او د اداري سیسټم د نورو غړو او د شورا تر منځ غونډو ته اجازه ورکوي. سره له دې، باید ووایو چې د اداري سیسټم په قانون کې په دغه سیسټم، او په خاصه توګه د قانون د تعمیلوونکو ادارو باندې په غونډو کې د برخه اخستنې او د شوراګانو سوالونو او معلوماتو ته د ځواب ورکولو له پاره قید او شرط نشته. په نتیجه کې به دغه شان قانوني وسیلې په کار وي چې د ولایاتو د دندو څارنه په سمه توګه په کار واچول شي. د ولایاتو د اداري سیسټم سمون چې په لاندې کې پرې بحث شوی دی د دغه شان میکانیزمونو په معرفي کولو کې مرسته کولای شي.

- *د ولایاتو د بودجې او د کارکوونکو تنظیم د ولایاتو د اداري څخه خپلواکه نه دې.* د اوسني قانون ۱۷مه ماده څرګندوي چې د ولایاتو د شوراګانو اداري چارې او اداري خدمات به د اړونده ولایت له خوا تنظیم او تیار شي، او مرسته کوونکو کار کوونکې به د ولایاتو د والیانو له دفتر له خوا تاییدیږي. په حقیقت کې، د ولایاتو شوراګانې د خپلو په ورځنیو دندو کې د ولایاتو د اداري سیسټم چې د هغوی د څارنې او سره د ښکاره لاس وهنې، تر لاس لاندې دي. د ولایاتو شوراګانو د یو داسې بودجې له پاره خپله هیله څرګنده کړې ده چې د ولایاتو د اداري څخه ناپایيلې وي، خو لا د داسې بودجې منبع مالومه نده.

## د اختلافاتو حل کول، د مخالفو دودونو لیرې کول، او د نشه یې توکو پر ضد مبارزه

د مسؤلیتونو دریمه پراخه کټګوري چې دندې یې د شریعت ضد طبیعت لرې او پر زیات تفصیل باندې تأکید کوي:

- *د قضایې، د قانون د تعمیلولو، او د مرسومې مناقشو د اوارولو سازمانونو د کارونو تر منځ د اړیکو څرګندونه،* په خاصه توګه د ولایاتو د

[7] د افغانستان په شرایطو کې د رایې ځانګړي نه اړوونکي سیسټم. د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداري دغه راپورونه وګوری؛ اي رینولډز، او اي وایلډر ۲۰۰۴ کال "ازاده، سپیڅلي او یا نیمګړې: په افغانستان کې د قانوني ټول ټاکنې له پاره ګواښونه،"؛ او اي وایلدر د ۲۰۰۵ کال، "څو ټوټې پارلمان؟" د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د ټول ټاکنې تحلیل، ؛. شواهد توصیه کوي چې زیاتره کاندیدان د ولایاتو څخه هم د کوچنیو میزانونو د حمایې پر بنسټ په مخکې ځي.

[8] د ولایاتو د شوراګانو د ټول ټاکنې یوه بله مسأله د ولایاتو د شوراګانو په قانون کې د ۱۵مې مادې شتون دی. دغه په اصطلاح "وژونکي فقره" څرګندوي چې د په حق تللو کسانو پر ځای دې هغه کسان مقرر شي چې دویمې زیاتې رایې تر لاسه کړې وي. دغه ستونځمنه انګیزه چې نوموړې فقرې منځته کړې د پارلمان له ټول ټاکنې څخه لیرې شوه او د ولایتو د شوراګانو په هکله هم باید بیا پرې غور وشي.

شوراګانو د مخالفت د اوارولو لازمه رول په اړوند. د ولایاتي شوراګانو او له نورو فعالینو سره د هغوی د اړیکو په پام کې نیول باید چې د قضایي سمون او د مناقشو په اوارولو کې، د بشر د حقوقو په ترقي او نورو هدفونو کې، د مرسومي جوړښتونو موقف، د جاري مباحثي یوه برخه جوړه کړي. د بیلګي په توګه کولای شو ووایو چې ولایاتي شوراګانې ښایي چې د مرسومي جوړښتونو او د دولت رسمي جوړښتونو تر منځ د اړیکو ارزښتمندي اداري وي، او په دغه ډول به د شوراګانو رول لا قانوني شي.

## عمومي مسایل چې د ولایاتو په شوراګانو باندې اغیزه لري

د ولایاتو د شوراګانو د خاصو دندو سر بیره عمومي مسألې شته چې د هغو په کار باندې اغیزه لري.

*د کیفیت او کمیت له لحاظه پوره منابع.* کله چې تقریباً په ټولو ولایاتو کې د شوراګانو د پرانستلو له پاره ځای او منابع تر لاسه شوی، دغه کار د خاصې مسألې پر بنا وشو او ښایي چې دوام و نکړي. د ۲۰۰۶ کال د جنوری په میاشت کې، ټولو ۳۴ شوراګانو د کار کولو ناکافي فضا او ناکافي مالیات څخه د څپلو د سترو ستونځو په ډول یادونه وکړه. د شوراګانو د ۱۳۸۵ کال مالي تخصیصونه لا څرګند ندي، خو ښایي چې د ۱۳۸۴ کال د وروستیو څخه لږ وي. باید ووایو چې حتی که کچې په پام کې ونیول شي بیا هم دغه منابع د شوراګانو د کار له پاره پوره ندي.[9]

- *د ظرفیتونو جوړول* رهنمایي غوندي دي چې نوي غړي د خپلو کارو سره آشنا کړي، خو بیا هم دغه اغضا یا غړي د ولایاتو په کچه د اداري جوړښتونو د بدلونونو د چلولو له پاره، او همدارنګه د پریکړو لیک آماده کول، تجدید نظر، او د سپارښتنې د لیک او د کمیټې د کارونو د مسوده کولو د زده کړې له پاره لا زیاتې روزنې ته اړتیا لري. دغه روزنه باید افغانانو ته د افغانستان په پوره مالکیت، نورمونو او برخه اخیستنه باندې له ټینګار سره په مخ بیول شي. او همدارنګه باید په دوامداره توګه د شوراګانو د زیاتیدونکې قانوني رول او له نورو ادارو سره د اړیکو او همدارنګه د خاصو ظرفیتونو د اړتیاوو په څرګندولو باندې ولاړه وي. د افغانستان د سیمه ییزه حکومت د مرستې پروګرام چې د بین المللي پرمختګ له پاره د متحده ایالاتو د نماینده ګۍ له خوا تمویلیږي، دغه مسأله درک کولې شي، او د حکومت اړونده وزارتونه او نماینده ګیانې باید چې په پوره اندازې ترې ملاتړ وکړي.

[9] شخصي مفاهمه، د حکومت ټیکه دار، د ۲۰۰۶ کال د فبروری میاشت.

*د خپل د رول پیژندنه.* څرګنده خبره ده چې د ټول ټاکنې په اوږدو کې کاندیدان او رای ورکوونکې دواړه د خپلو رولونو څخه خبرتیا نه لرله او له اړونده ادارو څخه یې راز راز تمې درلودلې[10] د شوراګانو د ضعیفه رسمي قدرت او د خدمت، نماینده ګي او د ملاتړ له پاره د ټولنو او د افرادو د امیدونو تر منځ د اختلاف خطر موجود دي. دغه ستونځه ښایي چې په شورا کې د ځنې غیر رسمي شبکو د نفوذ لرونکو غړو د نورو غړو تر څنګ چې داسې شبکې نه لري، د شتون له کبله زیاته شي. په داسې حال کې چې د شورا د غړو له خوا د ابتکاراتو او لاسته راوړلو له پاره غونډې او د ظرفیتونو جوړولو کوښښونه شوي دي، د ښوونې او روزنې موازي مدني کوښښ هم شوی دی. د افغانستان د سیمه ییزه حکومت د مرستې پروګرام له خوا په پام کې نیول شوی دي چې کیدای شي د خلکو سره د شوراګانو د دندو د لا ښې پوهې په هکله مرسته وکړي.

سره له دې چې دغه کتنې د ولایاتو د شوراګانو په ټاکل شویو دندو(رولونو ) باندې څرخي، د یادونې وړ ده چې شوراګانو په څپله د څپل د موجودیت په لمړنیو میاشتو کې، د غونډې او د راز راز مالي منابعو د تنظیمولو له پاره د غوښتنو ، زیات قدرت او منابع د یوې پریکړې له لارې چې د ۲۰۰۶ کال د مارچ میاشت په لمړی نیټه (د ۱۳۸۴ کال د حوت په ۱۰مه نیټه) په ټولیزه توګه وشوه، قاطع ثابت کړو[11]

[10] د رای ورکوونکو او د کاندیدانو د خبرتیا د لړوالی په هکله د بیلګې په توګه د هیواد ورځپاڼې (د ۲۰۰۵ کال د اګست میاشت د ۲۲مې نیټې/ د ۱۳۸۴ کال د اسد د میاشت ) خپرونه وګوری. د پارلمان او د ولایاتو د ټول ټاکنې د کامپاین د تحلیل له پاره او د رای ورکوونکو او د کاندیدانو د تصور له پاره، د انډریو وایلډر، څو ټوټې پارلمان: د افغانستان د ۲۰۰۵ کال د ټول ټاکنو تحلیل، وګوري.

[11] د بیلګې په توګه، د شوراغړو د وزارتونو څخه د ناپایېلې بودجې، او د ولایاتو په کچه د ګمارنې او د بودجې د تصویبولو ، او د ولایاتو د مقاماتو له خوا د انسجام له پاره د لا قوی میکانیزمونو له پاره خپله خوښه ښکاره کړې ده: د ولایاتو د شوراګانو کاری ډلې، د ولایاتو د شوراګانو د ملي کنفرانس راپور، کابل: د ۲۰۰۶ کال د فبروری له ۲۷مې نیټې څخه د مارچ تر لمړۍ نیټې پورې. (د ۱۳۸۴ کال د حوت له ۸مې نیټې څخه تر ۱۰مې نیټې پورې )

. دغه غوښتنې د پورته تفصیل شویو مسایلو د اوارولو له پاره د روغې جوړې او انکشاف اغیزمنه اساسات جوړوي او باید چې د ولایاتو د ټولیزې حکومت کاري چوکاټ په پاملرنو کې اضافه شي.

## ۳. له اخښلي سره ګډول: د ولایاتو د انکشاف کمیټې

تیر کال هم د ولایاتو د انکشاف د کمیټو د جوړولو د ډیرو تجربو شاهد وو، خو بیا هم ډیرې کمې د کار وړ نتیجې تر لاسه شوې. د ولایاتو په کچه د فعالیتونو د پرمختللی انسجام د اړتیا له پیژندلو سره، یو شمیر مختلفو سازمانونو د انسجام د میکانیزمونو د جوړولو له پاره موازي مقدمات پیل کړل، څنګه چې د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداری په یوه معلوماتي پاڼه کې "د ابهام په قلمرو کې" پرې بحث شوی دی. راز راز اداري په راز راز نومونو د هیواد په ګوټ ګوټ کې ښکاره شوی، ځنو یې د ولایاتو د انسجام په پخوانیو ادارو کې چې په افغانستان کې د ملګرو ملتو د مرستندویه هیأت له خوا حمایه کیدې، ریښې درلودلې، نورې یې د بسپنه ورکوونکو او د ولایاتو د بیا رغونې د ډلو له خوا پیل شوی، او ځنې یې د والیانو د اولویت له مخې پیل شوې.

کله چې د فعالیتونو او جوړښتونو ورته والي مالوم شو، نو بیا په کابل کې یوه کاري ډله جوړه شوه، دغه کاري ډله لمړی د کورنیو چارو، د مالیې او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې د وزارتونو په استازي توب جوړه شوه او وروسته د اداري چارو د سمون او د مدني خدماتو د ناپایېلي کمیسیون، د اقتصاد وزارت او یو شمیر بسپنه ورکوونکو په ګډون سره پراخه شوه. یو ځه لنډ او د ټولو د موافقې معلومات چې له دغه ډلې څخه را پورته شول کابینې ته وړاندې شول. خو بیا هم د اقتصاد له وزارت څخه غوښتل شوی وو چې نوی لنډ معلومات تیار او اجرا کړي. او یو وروستني لنډ معلومات بیا د کابینې له خوا تیار او تصویب شول.[۱۲] څومره پوهاوي چې له دغو لنډو معلوماتو څخه تر لاسه کیږي، د ولایاتو د انکشافي کمیټو دندې په لاندې ډول دي:

- انسجام، د دولتي ځانګو، د ملي او د ولایاتو د کچو، او د دولت، د نادولتي سازمانونو، بین المللي سازمانونو او د کلیو د بیا رغونې د ډلو تر منځ انسجام.
- د عامه ادارو، د ولایاتو د شوراګانو او د خلکو تر منځ ارتباط
- د ولایاتو د پلان جوړونې مسؤلیتونه د بودجې د پروسې په شمول
- د ولایاتو د ستراتیژیو تصویبول
- د خصوصي او عامه پانګې اچونې په هکله مشورې
- د نشه یې توکو پر ضد د مبارزې څارنه

خو بیا هم د یو لړ دلایلو په اساس نوموړي اسناد قانع کوونکي نه دي، لکه:

- دغه اسناد د ولایاتو د انکشافي کمیټو له پاره د قدرت غوښتنه کوي، لکه د سکتوري پروژو او د نشه یې توکو پر ضد د کارونو څارنه، چې باید د انسجام کوونکي اداري سره نه بلکه د مربوطه وزارت په لاس کې وي.
- د ولایاتو د انکشاف کمیټو ته د ولایاتو د انکشافي بودجې د مسوده کولو مسؤلیت ورکوي په داسې حال کې چې دغه شان بودجه هیڅ نشته.
- او داسې غوښتنه کوي چې د انکشافي کمیټو دارالانشا او مرکزي دفتر دې د اقتصاد په وزارت کې وي، چې دغه کار به ګران، نه پایښدونکي او غیرګ وي. پیشنهاد شوی بودجه د انکشافي کمیټې د جوړولو له پاره د دریو میلیونو ډالرو د اړتیا غوښتنه کوي، او د فعالیتونو له پاره د ۲،۷ میلیونه ډالرو کلنۍ بودجې ته به اړتیا وي.
- د ولایاتو د انکشافي کمیټو او د اقتصاد د وزارت تر منځ دندې او د پیشنهاد شوې تخصیص مالوم ندی.
- د دندو د باالقوه غبرګونوالي سره سره، د ولایاتو د شوراګانو سره د مسؤلیتونو او د اړیکو د ویشنې کوم تفصیل ندی ورکړ شوی.
- د ولایاتو د انکشافي کمیټو غړیتوب مالوم ندی. څرګنده نده چې د بسپنه ورکوونکو، د ولایاتو د

[۱۲] د اقتصاد وزارت، د ولایاتو د انکشاف د کمیټې د جوړولو له پاره وړاندیز، بې نیتې سند چې د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر په میاشت کې خپور شو.

بیارغونې د ډلو، د نورو بین المللي سازمانونو، نا دولتي سازمانونو، خصوصي سکتورونو او د مدني ټولنې نماینده ګان ټول د ریاستونو له مشرانو سره په یو مساوي مقام غړي دي که دا چې هغوی باید د سکتوري کاري ډلو سره مرسته وکړي.

- نه دغه جوړښتونه مالوم دي او نه هم په ټولیزه توګه د دغه اسناد پوهاوي اسانه کار دی.

په داسې حال کې چې کابینې څرګنده هم کړه چې انکشافي کمیټې باید د کارکوونکو د شمیر د زیاتولو او د جلا بودجې د منځته راوړلو څخه پرته جوړې شي، او دا چې د ولایاتو د اقتصاد ریاستونه د دارالانشا او د نوموړو کمیټو د فعاله کولو مسؤلیت د میشته کارکوونکو او د اوسني جوړښت په استفاده، په غاړه لري.[13]

*د نوموړو کمیټو تجربه ښکاره کوي چې د سیاسي مالکیت او د دغو سترو سوالونو د ځوابونو نشتوالی، نه یوازې د هغو پرمختګ خو د ولایاتو په کچه د اداري سیستم د ستر سمون، د پرمختګ مخنیوی هم کوي.*

داسې ښکاري چې د افغانستان له پاره د ملګرو ملتو د مرستندویه هیأت وړاندیز چې د اقتصاد وزارت باید نورو وزارتونو او بسپنه ورکوونکو ته د انکشافي کمیټو د بشپړولو له پاره د خپله شیوه وړاندې او تعریف کړي، له بده مرغه هیڅ ګټه نده کړې. د څو میاشتو په اوږدو کې د ولایاتو د انکشاف د کمیټو د جوړولو له پاره هیڅ کار ندی شوی، او د وزارت لوړ رتبه مقاماتو وییل چې هغو تمه لرله چې وزارت به د کابینې په نوي کیدو سره له منځه ولاړ شي نو ځکه هغوی دغې پروسې ته ادامه نه ورکوله.[14] باید وواېو چې فعالیتونو چې د کابینې له تصویب څخه وروسته راولاړیږي د کنټرول وړ دي. په هر حال، د غړي توب، د دندو، او د اړیکو د مغشوشوالي سره سره، د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د ملي سیمه ییزه انکشافي پروګرام له لارې د کلیو د انکشافي شوراګانو روزل په مخکې بیایي. په دغه مرحله کې دغه روزنه د مربیانو د روزلو په اصطلاح د عمومي مهارتونو په نامه یادیږي.[15] سره له دې هم د دغو سترو سوالونو روښانول فوري دي تر څو دغې روزنې څخه ښه استفاده وشي.

په عین حال کې، د ولایاتو د پرمختللی انسجام له پاره د یوې ځانګړې فعاله پروسې د نشتوالي په حال کې، ډول ډول اولویتونه د ودې په حال کې دي، او لا زیات مغشوش والي رامنځته کوي. د بیلګې په توګه په جنوب ختیځ کې، د پکتیا، پکتیکا، لغمان او خوست والیانو د بین المللي پرمختګ له پاره د متحده ایالاتو د سازمان له خوا د یو تمویل شوي ټیکه دار د سهولتونو په استفادې سره د ولایاتو د پرمختګ ستراټیژۍ را منځته کړې دي، د پالیسي ستراټیژیکې ډلې او مسؤلې کاري ډلې جوړوي، په داسې یو موډل کې چې د هغوی په وینا به ټول هیواد ته پراخې شي.[16] په بلخ کې د مدني ټولنې کمیټې او د ولایاتو پاتې اداري د ولایاتو د انسجام اداره، د ولایاتو د پلان جوړونې او د انکشاف شورا ته واړوله. هغوی د دغې اداري د دندو او اړیکو له پاره لاربود رامنځته کړو او یو ګټور منوال یې تولید کړو چې د هغوی په فکر به په ټول هیواد کې د استفادې وړ وي. خو همدا چې هغوی پوه شول چې دغه کار د اقتصاد د وزارت له شیوې سره سم ندی، هغوی خپل اولویتونه بند کړل او منوال یې بیرته واخستو، خو دا حقیقت چې هیڅ پرمختګ روان ندی د هغوی زړه ور ماتوي.[17] په بل ځاي کې، خاص ترتیبونه د کارکولو په حال کې دي (که نه)، چې ځنې یې اوس، د دغو ادارو د منځته راوړلو له پاره د مرکزي حکومت د مسؤلیت په نظر کې نیولو سره، د ولایاتو د انکشاف د کمیټو په نامه یادیږي. خو بیا هم د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداري څیړنه چې اوس روانه ده، ښکاروي چې د حکومت له خوا پیل شوي میشته انسجام د والیانو په خوښه او غوښتنو پوري تړلي دي.

[13] د کابینې له غونډې څخه اقتباس شوي معلومات، د ۲۰۰۵ کال د نومبر د میاشت ۷مه نیټه، شمیره ۳۰.

[14] د بین المللي پرمختګ له پاره د متحده ایالاتو د سازمان له کارکوونکو سره شخصي ارتباط، د ۲۰۰۶ کال د فبروري میاشت.

[15] د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت له مامورینو سره شخصي ارتباط، د ۲۰۰۶ کال د مې ۴مه نیټه

[16] د ولایاتو د انکشاف ستراټیژۍ وګورئ، بې نیټې نامعلومه سند چې د ۲۰۰۶ کال د مارچ په میاشت کې خپور شو، همدارنګه د ولایاتو د انکشاف ستراټیژۍ، د الحاج محمد ګلاب منګل د لغمان ولایت د والي وړاندیز، د اکبر آزاده جلسه، ستاره میلمستون، کابل، د ۲۰۰۶ کال د مارچ ۲۹مه نیټه.

[17] شخصي ارتباط، د حکومت ټیکه دار، بلخ، د ۲۰۰۶ کال د اپریل ۲۳مه نیټه.

ځنې بسپنه ورکوونکي او نور شریکان چې د ولایاتو د انکشافي کمیټو په اوږده او ستومانه کوونکي پلان جوړونه کې بوخت دي اوس په پټه سره وایي، پروا نکوي چې په هر ولایات کې یو رنګ جوړښتونه ایجاد شي، او وایي چې حتی که دغه میکانیزمونه له قبول شوې موډل سره سمون کوي که نه خو غوره دا ده چې د انسجام کاري میکانیزمونه موجود دي. په دغه دلیل، هغوی د خاصو ترتیبونو، چې په ځنو ولایاتو کې رامنځته شوي دي، او ځنې یې د نویو میکانیزمونو چې اوس راپورته کیږي، ملاتړ کوي. په ښکاره سره لازمه ده چې په لنډ مهال کې فعاله انسجام موجود دي، څنګه چې د ولایاتو په کچه ټینګار زیاتیږي، دا هم مهمه ده چې یو څه اندازه برابري هم موجوده وي. کولای شوو ووایو چې دغه به د قانون په مطابق د ولایاتو د فعالینو (لکه د ولایاتي شوراګانو) له خوا مناسب دست آورد ډاډه کړي، او د دندو او مسؤلیتونو په څرګندلو کې به مرسته وکړي. ښایي چې دا په دې موخه وی چې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژی د ولایاتو د انکشاف د کمیټو د جوړولو ولاړې پروسې ته د خوځښت توان ورکړي، او بسپنه ورکوونکي باید له دغه فرصت څخه چې د نوموړي ستر فعالیت له خوا رامنځته شوی ده استفاده وکړي، تر څو د شوراګانو جوړول تشویق شي.

د ولایاتو د انکشافي شوراګانو اړونده فعالیتونه، د یو داسې وړاندیز د جوړولو کوښښونه چې یو شمیر مختلف وزارتونه، او د یو اغیزمنه حل لاری د جوړولو ناکامي د لوړې کچې سوالونو څو اړخونو چې په دغه پاڼه کې پری ټینګار شوی دی څرګندوي. ځنې ستونځې چې د ولایاتو د انکشافي کمیټو د ایجادولو په پروسه کې را څرګنده شوې، کیدای شي چې د بیلا بیلو فعالینو په دندو او مسؤلیتونو باندې د موافقت، د سیمه ییزه حکومت له پاره د یو ټولیزه کاري چوکاټ د نشتوالي له کبله وي. د بیلګې په توګه له ولایتي حکومت سره د دغو کمیټو د مرستې د څرنګوالي په هکله بیلابیلې نظریې، او همدارنګه د هغو د دندو، غړیتوب او اړیکو په اړوند بیلا بیلی لار ښوونې موجودې وی. برسیره پر دې، د ولایتي حکومت د مسایلو له پاره د یو عمومي دولتي کور/ځای د نشتوالي څخه مطلب دا دی چې، تر څو چې ولس مشر پریکړه نه وه کړې، څرګنده نه وه چې څوک به د وړاندیز د جوړولو او بیا د بشپړولو مسؤلیت په غاړه ولري. او همدارنګه د وزارتونو تر منځ پر دغه مسأله باندې پوره اندازه مخالفت موجود وو. د نوموړو کمیټو اړونده تجربې ښکاروي چې د څرګنده سیاسي مالکیت او د دغو سترو سوالونو ته د ځوابونو نشتوالي، نه یوازې د انکشافي کمیټو په جوړولو کې خو د ولایاتو په کچه د اداري سیستم د ستر سمونو، د پرمختګ مخنیوی هم کوي.

## ۴. د عامه سیمه ییزه اداري سمون

د اساسي پروسو څخه یوه بله چې د ولایاتو په حکومت باندې اغیزه کوي د عامه اداري یعنې د وزارتونو د ولایاتو څانګې او د والیانو د دفترونو سمون دی. د افغانستان موافقت نامه دولت ته لاندني مسؤلیتونه ور په غاړه کوي:

"په هر هغه ولایت کې چې فعاله موسسې موجودې دي په هغو کې منظم تأسیسوني ته رومبی توب ورکړي، د مدني اداري، پولیس، زندانونو او قضایي سیستم سره سره. دغه موسسې (اداري) به مناسب قانوني کاري چوکاټ او د ګمارنې کړنلارې؛ روزل شوی کارکوونکي؛ او پوره تنخا؛ زیربنا او د څارنې ظرفیت ولري"(۳).

د عامه اداري د مسؤلیت د سرته رسولو له پاره د دولت شیوه دا ده چې د عامه اداري د سمون د ستراتیژی له لارې یې تر سره کړي، چې دغه ستراتیژي څلور پایې لري: اداري سمون، په شمول دی سیمه ییزه اداري سمون؛ تنخاوې او بخشش؛ د عامه خدماتو اداره؛ د وړ والي سره سم ګمارنه؛ او د ظرفیتونو لوړوالی. د سیمه ییزه اداري سمون برخه دري نوري اساسي برخې لري:

- د والیانو د دفترونو تقویه کول
- د ولایاتو په کچه د اداري سمون او مدني؛ خدماتو ناپایيلي کمیسیون ظرفیت جوړول؛او
- د اساسي وزارتونو په سیمه ییزه واحدونو کې د اصلاحاتو ژورول.

د ریاستونو د تشکیلاتو نوی کول، او د استخدامولو د طریقو بدلون په لمړي سر کې د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو د نوی کولو تر پروګرام لاندې پیل شو. د هدفونو او د دندو، او د تشکیلاتو د نوی کولو یوه

اندازه، او د وروسته سره سم استخدامول د څرګندولو په بدل کې، د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو پروسې برخه اخستونکو وزارتونو او ریاستونو ته اجازه ورکړه چې په ټاکل شویو بستونوکې لایقو کارکوونکو ته لوړې تنخاوې ورکړي. که څه هم د ولایتونو د سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو پروګرام په ځنو ساحو کې کامیابی تر لاسه کړې، خو نوموړی پروګرام په ملي کچه د سازمانونو د تشکیلاتو د رښتنی تجدید د محدوده حالت په هکله د اندیښنو په راپورته کیدو، هغه حد چې نامستحقه کارکوونکي د لوړو تنخاوو بستونو ته انتقال شول او په وزارتونو کې د نابرابری مشکلاتو په راولاړیدو سره جنجالي ثابت شو.[۱۸] د عامه اداري سمون ستر پراخ پروګرام اوس بیا کنټرول شوی او سم شوی دی او فعالیتونو چې مخکې د اولویتو د سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو د پروګرام لاندې شوي وو د عامه اداري سمون د پروګرام په مختلفو برخو کې د تنخاوو او درجو په زیات جامع سمون سره، ځای پر ځای شول.[۱۹]

تر دغه محاله پورې په سیمه ییزه کچه د سمون او د ظرفیتونو د لوړوالي د پروسې د تأسیسولو له پاره یو څه فعالیت شوی دی، خو نتیجې یې سره اخښلي دي. بې له شکه په ځنو ساحو کې پرمختګ شوی دی. په خاصه توګه، کولای شو ووایو چې، څارنه چې د افغانستان د څیړنې او ارځونې د اداري له خوا له ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۵ میلادي کاله پورې بشپړه شوه داسې نتیجه تر لاسه شوه چې د ولایاتو په کچه د مالیاتو په اداره کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. سربیره پر دی، د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو د پروګام آزمایشي ولایت بلخ کې، د رښتني سمون تشویق کوونکي نښې موجودي وې، د بیلګې په توګه، د سمون پروسې په تشکیل کې ۲۰ فیصده بدلون رامنځته کړی دی، او د والي په دفتر کې د فارغینو شمیر له ۲ څخه ۲۱ ته زیات شوی دی.[۲۰] خو بیا هم د سمون (اصلاحاتو) ځنې اړخونه ډیر سخت ثابت شوي دي او پرمختګ هم پکښې سوکه وو. داسې ښکاري چې په عمومي توګه د ریاستونو تجدید، د استخدامولو د شیوو بدلون او د روزلو پایښدونکي پروګرامونه لا زیات سخت وو. د افغانستان د ثبات ناکامه پروګرام چې د حکومت د تقویه کولو او د سیمه ییزه مدني اداري د ظرفیتونو د ترقي له پاره طرح شوی وو، په زیاته کچه له داسې ستونځو سره مخامخ شو. د نوموړي پروګرام د زیرښنا برخې یوازنۍ برخې وې چې په فعاله توګه یې ادامه لرله، په داسې حال کې چې سمون او د تشکیلاتو نوي کول ډیر زیات سخت ثابت شو.

*د عامه اداري سمون دوه ډلو ستونځه سره مخامخ دی: له کابل څخه د لیرې اوسیدو او د محلي حمایت د سیستم اختلاف او ګډه وډه طبیعت،* او د سیمه ییزه حکومت د سمون د سیاسي ارتکاب له پاره د ټولیزه لید نشتوالي.

د عامه اداري سمون اوس د والیانو دفترونو ته ور غړول کیږي. په بلخ کې چې کوم پر مختتلي رهبری ده اوس نورو شمالي ولایاتو او ولسوالیو ته ورل کیږي. او همدارنګه دغه پروسه به په لویدیځو ولایاتو کې هم پیل شي. دغه د سمون پروګرام د ولایاتو په نورو څانګو کې محدود وو، پرته د ولایاتو د پراختیا او بیا رغونې او د عامه روغتیا وزارت څخه چې خاص سمون پکښې راغی. د ولایاتو په اکثره څانګو کې د دغې پروسې په نتیجه کې یوازې اساسي بستونه د تنخا نوي میزان ته وخوځول شول او د څانګو په جوړښت او دندو کې خاص سمون ندی راغلي. او هدارنګه یې په ځنو مواردو کې د پخوانیو مدني خدمتګارانو تر منځ مقاومت رامنځته کړی دی، د مثال په توګه د رغتونونو د اداره کوونکو تر منځ.

که څه هم د ولایاتو په کچه د عامه اداري سمون یو څه نوي دی او د ارځونې له پاره محدوده معلومات موجود دی، خو د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو د پروګرام لمړنی تجربه ښيي چې دغه پروګرام د جوړښتونو او د دندو د سمون څخه پرته د تنخاوو په بدلون باندې هڅه کوله. سربیره پر دی، د اداري او سیاسي اداري ټاکنو د تعریف په اړوند یو څه مخالفت را پورته شوی وو. کولای شو ووایو چې، لږ تر لږه د یوه ولایت والي داسې نظر درلودلو چې د کارکوونکو د مشرتابه برخه دی د هغه خاص حق په تو ګه باتي شي. په پای کې، د ولایاتو اکثره او یا ټولو غوښتونکو جلسه

[۱۸] د دغو سترو ستونځو اغیزمه کتنه د افغانستان به اسلامی جمهوریت او د اداري سمون او مدني خدماتو ناپاییلي کمیسیون کې د لیدو وړ دی (۲۰۰۵) "د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د نوي کولو ړومبی توب وګوری".

[۱۹] د افغانستان د حکومت د عامه اداري د سمون ستراتیژي او پروګرام، ۹-۱۳۸۵.

[۲۰] د والي عطا پیشکش، د کورنیو چارو وزارت

درلودله چې پر ته له کوم بنیادي مرستې څخه د سمون د تقاضاوو په نظر کې نیولو سره، د اړتیاوو د پوره کولو ستونځې درلودلې. داسې ښکاري چې دغه ستونځه د جوړښتونو او د دندو مناسب سمون په تعریف باندې څرخیږي، چې دغه موضوع د ولایاتو د نامعلومه کاري چوکاټ په ماحول کې چې په دغه پاڼه کې پرې بحث شوی دی د پیژندلو وړ ده.

ځکه خو داسې ښکاري چې د عامه اداري سمون پروګرام به په ولایاتو کې له دوه ډلو ستونځو سره مخامخ شي. لمړۍ ډله هغه ستونځې دي چې په عمومي توګه ور سره مخامخ کیږي، خو له کابل څخه د لیرې اوسیدلو، د محلي حمایت د مختلط سیستم او د مختلفه شرایطو، او د ظرفیت د زیات ټیټ والي له کبله دغه ستونځې ډیرې اوچتې دي. او د ستونځو دوهمه ډله د سیمه ییزه حکومت د سمون د سیاسي ارتکاب له پاره د ټولیزه لید په نشتوالي پورې تړلې ده. مطلب دا چې د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو نوی کول یو بل پروګرام دی چې د سمون له تړلي پروسې سره د اړیکو څخه پرته باید بشپړ شي. څنګه چې د افغانستان د څیړنې او ارځونې وروستنې څیړنې زیاته کړه چې:

"د اولویتونو سمون او د تشکیلاتو د نوی کولو پروګرام که د لا زیات متحد او منظم ماهیت ته د و لایاتو د اداري سیستم د بدلون په لور استعمال شي کیدای شي چې مثبته وسیله وي. خو که په ساده توګه د میشته جوړښتونو سره کنښینول شي، د یو ټوټه ټوټه ډول چې د اوسني قدرت عمودي کربښې ښکاروي کیدای شي چې دغه پروګرام زیانمن شي."[21]

دوه اساسي ټول اړخیزه اداري چې د عامه اداري سمون پروګرام حمایه کوي، نړیوال بانک او د اسیا د پرمختګ بانک، هم ولایاتو ته د سمون د پروګرام ورغړولو په هکله اندیښنې څرګندوي، په خاصه توګه د سیمه ییزه حکومت د سمون په پراخه ستراټیژۍ کې د هم اهنګۍ د نشتوالي په اړوند. د آسیا د انکشافي بانک له پاره د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو د نوی کولو وروستنۍ څارنه داسې یادونه کوي:

"د ولایاتو او مرکزي دولت تر منځ د موعود سیاسي، اداري او مالي ترتیبونو د نشتوالي په حال کې، د ولایاتو د حکومت په کچه کې د سمون

[21] ایوانس او عثماني، د پرمختګ ارځونه، ۲۸م مخ.

د پروګرام ځای پر ځای کیدو باندې زور اچول لوی خطر دی، ولایاتو ته د سمون د پروګرام رغړول باید چې داسې ارزیابي شي چې د ولایاتو د حکومت په هکله د حکومت د رسمي پالیسیو څخه پرته د نوموړي پروګرام اغیزمنتوب څرګند کړي...."[22]

دغه اندیښنې د عامه اداري سمون د پراخه پروسې له پاره چې اوس پر مخ بیول کیږي په مساوي توګه سره تړلې دي.

بله بحراني او سره تړلې ساحه د ولایاتو په کچه د ظرفیتونو د جوړولو او د روزلو مسأله ده. په داسې حال کې چې په دغه ساحه کې زیات فعالیتونه کیدل، خو هغه کوښښونه چې تر اوسه پورې شوي دي نا منظم او ټوټه ټوټه وو. راز راز بین المللي سازمانونه او نا دولتي ادارو له مختلفو دولتي ادارو سره، په شمول دې اداري سمون او مدني خدماتو ناپاییلي کمیسیون، د روزلو د متنوع نوښتونو د برابرولو له پاره کار کړی دی، چې د افغانستان د ثبات پروګرام، د اروپا اتحادیه او د اروپا کمیسیون د ظرفیتونو د جوړولو ډله ییزه روزنې پروګرام او د افغانستان له پاره د ملګرو ملتو د مرستندویه هیأت او د ملګرو ملتو د پرمختګ پروګرام له خوا یو شمیر تمویل شوي پروګرامونو په شمول. خو بیا هم، په سیمه ییزه کچه د روزلو د اړتیاوو وروستنی څارنه داسې قضاوت کوي چې:

"که څه هم څنو ولایاتو او ولسوالیو له محدوده تعلیم څخه چې د دولتي او غیر دولتي سازمانونو له خوا برابر شوی وو ګټه اخیستې ده، خو د ډیرو عواملو له کبله دا سطح ټیټه وه... تعلیم یا روزنه چې برابره شوې وه د شرایطو له لحاظه خاصه وه او د پلان او د خدماتو رسولو له لحاظه نا منظمه وه. حاضره په ملکي خدماتو کې د روزلو او یا د انساني منابعو د پرمختګ کلتور نشته."[23]

[22] د افغانستان اسلامي جمهوریت او د اداري سمون او مدني خدماتو ناپاییلي کمیسیون، ۲۰۰۵ کال، "د اولویتونو د سمون او د تشکیلاتو د نوی کولو پیلوونکي" د څبروني ۵م او ۱۰م مخ وګورئ. او همدارنګه د نړیوال بانک د ۲۰۰۵ کال، "افغانستان، عامه اداري سمون، د بحث وړ اساسي مسألې" خپرونه وګورئ، ناخپور شوی سند ، د ۲۰۰۵ کال د می ۹مه نیټه.
[23] د افغانستان اسلامي جمهوریت، د اداري سمون او مدني خدماتو ناپاییلي کمیسیون او د ملګرو ملتو د پرمختګ پروګرام، "په سیمه ییزه کچه د تعلیم د اړتیاوو د ارځونې راپور" د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر میاشت.

په داسې حال کې چې، په افغانستان کې د ظرفیتونو د پرمختګ د ستونځو په اړه یو شمیر ځرګنده مسألې موجودې دي، د یادونې وړ ده چې د سیمه ییزه حکومت په لور د نامنظمه شیوې هم ستونځې زیاتې کړې دي. د ظرفیتونو د جوړولو د بریالیتوب نوښتونه په ځرګند ډول د عامه اداري سمون پروسې له تولیزه برې سره نږدې تړاو لري تر څو مدني خدمت کوونکې په سمو سازماني جوړښتو کې د خپلو نویو مسؤلیتونو له پاره وروزل شي. مطلب دا ندی چې توله روزنه دې د دغه شان سمون له پاره وځنډول شي خو مهمه ده چې د ظرفیتونو جوړونه دې د سیمه ییزه اداري سمون په جوړه شوې طریقه کې بشپړه شي. چې دغه د سیمه ییزه اداري سمون د سیمه ییزه حکومت له پاره د تولیزه کاري چوکات سره تړلې دي.

## ۵. سیمه ییزه حکومت اوس په څه حال کې ده؟

دغې پاڼې داسې استدلال کړې دی چې په افغانستان کې د ولایاتو د حکومت له پاره د یو تولیزه کاري چوکاټ نشتوالې، او سره له دې چې د بیلا بیلو کچو، فعالینو او ادارو اړیکې له یو بل سره څه شان دي، د سمون پروسه په زیاته کچه ضعیفوي او د ولایاتو په کچه د مسؤله، مؤثر او باوري حکومت د پرمختګ مخ نیوی کوي.

د مفصل کاري چوکات د نشتوالي سره سره، د سیمه ییزه حکومت له پاره د تولیزه لید د تفصیل د افغانستان د ملي انکشاف د موقتي ستراتیژۍ او د افغانستان په موافقت لیک کې، او په دغو اساسي مسایلو کې د پیژندنې له مخې لکه له حد څخه زیات مرکزیت، یوه موقع وړاندې شوې ده. په داسې حال کې چې د دغو پروسو لازمې پیچلې توب، ستونځې، او د پروسو اوږدمهاله طبیعت په شمول د دې چې د بودجې اوږدمهاله او پیچلې مسألو سره په موافقت ورسیږي، د دغو مسایلو د حلولو او د پرمختللې سیمه ییزه حکومت سره د مرستې له پاره خاص فعالیتونه شته چې حکومت او بین المللي ټولنه کولای شي هغه له مخکې ونیسي. سربیره پردې چې د یو پراخه سیاسي مالکیت لرونکي کاري چوکات را منځ ته کول او تکامل به وخت نیسي، غوره ده چې پروسې پیل شي او جوړښتونو ته انکشاف ورکړل شي چې دا به په آزاده او مشورتي توګه دغه شان لید ته وده ورکړي.

*سربیره پردې چې د یو پراخه سیاسي مالکیت لرونکي کاري چوکات را ولاړیدل او تکامل به وخت نیسي، غوره ده چې پروسې پیل شي او جوړښتونو ته انکشاف ورکړل شي چې دا به په آزاده او مشورتي توګه دغه شان لید ته وده ورکړي.*

د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ کلونو په اوږدو کې د اوسنې د افغانستان د ملي د انکشاف موقتي ستراتیژۍ څخه پرته د افغانستان د انکشاف د ملي ستراتیژۍ پرمختګ موخه باید دا وي چې د سیمه ییزه حکومت مسایلو ته نوي پاملرنې د سیمه ییزه حکومت د هدف د سرته رسولو له پاره د روښانه او ځرګنده ستراتیژیو په شمول، بشپړ کړي. او روښانه ده چې د لاندنیو سوالونو له پاره شفافیت لازم دی.

- د پرمختللې سیمه ییزه حکومت د موخې، چې د افغانستان د ملي انکشاف په موقته ستراتیژۍ کې وضع شوې، د بیلا بیلو موسسو او دولتي کچو خاصو برخو، منابعو، او مسؤلیتونه سره اړیکې څه دي؟
- په انکشافي پلان جوړونه کې د ولایاتو رول څه دی؟ په دغه کې باید د انکشافي پلان جوړونې موعود تعریف، هدف او د ملي پلان جوړونې په کاري چوکاټ کې د بودجې د پروسې سره اړیکې شاملې وي.
- د بیلا بیلو سیمه ییزه ادارو تر منځ اړیکې څه دي؟ په دې کې به ولایاتي ټاکل شوېو شوراګانو او د ولایاتو د اداري اړیکې د هغوی د مشورتي دندې په ارتباط او د ولایتي شوراګانو او د ولایاتو د انکشافي کمیټو اړیکې خصوصاً د پلان جوړونې په ارتباط، شاملې دي.

میکانیزمونه او پروسې چې دغې پروسې سره مرسته کوي او د ولایاتو پرمختللې حکومت په لور هدایت کوي:

- دولت باید د لوړې کچې اداره په وزارتونو کې جوړه کړي چې د سیمه ییزه حکومت د ټولو مسایلو په اړه مرکزي ټکي او روښانه رهبریت برابر کړي.

- د حکومت په هکله باید چې یوه مشورتی ډله جوړه شی تر څود افغانستان د ملی انکشاف په موقته ستراتیژی او د افغانستان په موافقت لیک کې چې حکومت پر بنسټ د اجراتو او څارنی په هکله مشوری ورکړی. یو خاص کاری ډله چې سیمه ییزه مسؤلیتونه، برخی، او کاری چوکاټ چې د افغانستان د ملی انکشاف د ستراتیژی د فعاله مسؤلیتونو د څارنی له لاری د مشورتی ډلی کار حمایت کړی. دغو ډلو ته د رجعت شرایط باید ښکاره وی، او هره هڅه باید دا ډاډ را منځته کړی چې د مشورتی ډلی د پیشنهاد شوی سمون له لاری دا فعاله او کاری ګروپ دی.
- د سیمه ییزه حکومت د لا منظم حمایت له پاره باید د بسپنه ورکوونکو نوښتونه تشویق او نور هم پراختیا ومومی. د ظرفیتونو د جوړولو د طریقی او پروګرامونو په پرمختګ کې، بسپنه ورکوونکی باید محتاط وی چې موازی او دوه ګونی جوړښتونو، نه جوړیدل ډاډه کړی، بلکه دا چې د هغوی وړاندیزونه د حکومت له موعود جوړښتونو سره هم غږی وی. د ولایاتو د حکومت له پاره د ظرفیتونو لوړول او د څرګند کاری چوکاټ رامنځته کول باید لاس په لاس ولاړ شی تر څو دغه سوال ته ځواب ورکړی، "د څه کار د کولو له پاره ظرفیت په کار دی؟"

د لید، کاری چوکاټ او ستراتیژی د سوالونو هاخوا، همدارنګه دغی پانی د ولایاتو د نویو جوړښتونو سره د مخامخ کیدلو او یا د هغو د سمون په هکله یو څه مسایل را پورته کړی دی، د هغو دندو د سرته رسولو له پاره چې وختی د قانون له خوا یا په وړاندیزونو کې چې اوس د افغانستان له حکومت سره دی هغو ته وړ په غاړه شوی دی. د ولایاتو د شوراګانو په اړه اساسی سپارښتنی دا دی:

- د ولایاتو د شوراګانو له پاره د نماینده ګی او د مشوری د اساساتو تفصیل جوړول دا به داسی وی چې، له خلکو سره د سلا او مشوره کولو له پاره د میکانیزمونو اړول، چې ښایې د سیمه ییزه نماینده ګی د نورو کچو په شکل باندی به اغیزه وکړی. او همدارنګه به په دی کې د ولایتی شوراګانو د ټاکلود قاعدی او په دغه شان د ولسوالیو او کلیو د راتلونکو ټاکل شویو ادارو بیاکتل، شامل وی.
- د غړی توب له مخی او یا که نه د ولایاتو د انکشافی کمیټو او یا نورو پلان جوړوونکو ادارو سره د ولایاتی شوراګانو اړیکی، د کوښښونو په شرایطو کې چې د ولایاتو د پلان جوړونی او له بودجو سره د هغه د اړیکې د تعریف له پاره کیږی، روښانه کړی.
- د ولایاتو په اداری سیستم او نورو ادارو باندی حاکم قوانین باید چې داسی میکانیزمونه په بر کې ولری چې د ولایاتی شوراګانو په څارنه کې د دوی مرسته ډاډه کړی.
- که غواړو ډاډه کړو چې د ولایاتو شوراګانی د والیانو له دفتر څخه په ناپایيلی توګه پوره منابع، او د شورا د رول په اړوند د پراخه مدنی ښوونی او روزنی په امکان سره د ظرفیتونو لوړوالی ترلاسه کوی، لازمه ده چې اندازه یې معلومه کړو.
- د رسمی او غیر رسمی عدلی سکتور فعالیت په راتلونکې مباحثو کې باید د ولایاتو د شوراګانو رول په نظر کې ونیول شی.

په دی ډول، د ولایاتو د کمیټو د جوړولو له پاره اوسنی ولاړ کوښښونه ښایې د لاندنیو سپارښتنو څخه ګټه واخلی:

- د افغانستان د ملی انکشاف د ستراتیژی د پرمختګ په شاوخوا کې د سیمه ییزه مشورو له خوا وړاندی شوی فرصت کیدای شی چې په هر ولایت کې د ولایاتو د انکشافی کمیټو د جوړولو د پروسی د بیا پیلولو له پاره استعمال شی. په هر ولایت کې د یو ټینګ جوړښت رامنځته کول مهمه ده، حتی که څرګند تفصیل او اړیکی باید په هغه وخت کې تایید شی چې پراخه لید ظاهر شوی وی.
- اصلاح شوی لنډ معلومات باید تیار شی چې د ولایاتو د انکشافی کمیتو مسؤلیتونه او اړیکی ښکاره کړی.

په پای کې، د ولایاتو په کچه د عامه اداری سمون د کوښښونو تدریجې پیژندنه باید لاندنې مسألی په نظر کې ولری:

- د سمون او د تشکیلاتو نوی کولو باندی د لا زیات تمرکز اړتیا، نه یوازی د تخاوو زیاتول

- د بسپنه ورکوونکو او د نورو فعالینو ارتکاب ته په سیمه ییزه کچه د ظرفیتونو د لوړوالی له پاره د بشپړوونکې شیوی اړتیا، سره له دی چې د اداری سمون او مدنی خدماتو ناپاییلی کمیسیون پر تقویت باندی د عامه اداری سمون د اجنډا د بشپړونکی په توګه، تمرکز وشی.

د افغانستان د سیمه ییزه حکومت د ترتیبونو سمون یو نوی او بحرانی مرحلی ته رسیدلی دی، چې د بن څخه د وروسته وخت د لارښوونکی اسنادو د پام، د افغانستان د ملی انکشاف موقته ستراتیژی او د افغانستان موافقت لیک، له خوا د بیلګی په توګه واضع شوي ده. د مرکزی حکومت یو کم شمیر اساسی فعاله موسسو په پخوانی ثبات او تأسیس کې رومبی توب ترلاسه کړی دی. سره له دی چې دغه مسایل مهمه دی، ولایاتو او له هغه څخه وړاندی د سمون او د دولت جوړونی څپرول اوس په مرکزی دریځ کی دی. خلکو ته د نژدی، د نماینده، انکشاف او سالم حکومت داري د راوستلو کوښښونه به اصلاح کوونکو ته نوی ګواښونه رامنځته کړی. په سیمه ییزه حکومت باندی نوی تمرکز د بدلون له پاره یوه موقع برابروی، خو قوی سیاسی رهبریت، ستراتیژیکې تفکر، د مرستو او انسجام نویو کچو، ازادی، داسی تمایل چې له مسایلو سره به د ټوک ټوک پرځای په ډله ییزه ډول کار کولو، ته اړتیا ولری

دافغانستان د څیړنې او ارځونې اداره (AREU) یوه مستقله اداره ده چې د عمل او زده کړې وړ څیړنې تر سره کوي او هم د څیړنې فرصتونه برا بروي چې په نتیجه کې به په پا لیسي جوړولو کې مرسته کوي. همدارنګه نوموړی مرکز په فعا له توګه د څیړنو او زده کړې رواج ته وده ورکوي تر څو د تجزیې او تحلیل کولو ظرفیتونه په افغا نستا ن کې پیاوړی شي او هم د تجزیې او تحلیل، فکر کولو او منا قشې فرصتونه برابر شي. د دې اداري بنیا دي لرلید دادی چې د نوموړي مرکز د کار په نتیجه کې با ید د ا فغا نا نو ژوند بهبو د ومومي.

نوموړې اداره په ا فغا نستا ن کې د مرسته کونکې ټولنې په مرسته منځ ته را غلی ده چې مدیره هیت یې له ملګرو ملتونو (UN)، تمویلوونکو ادارو، ملي او بین ا لمللي ادارو څخه نما ینده ګی کوي.

د نوموړې اداري اوسني بودجه د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیأت (UNAMA)، د اروپا کمیسون (EC) ملګروملتونو د مهاجرینو عالی کمیشنری (UNHCR)، د هالنډ د مهاجرینو موسسه (Stichting Vluchteling)، نړیوال بانک (WB)، د بریيتا نیا د بین ا لمللي انکشا ف د اداري (DFID) او د کانا دا، سویډن، سویتزرلند، دنمارک هیوادونو له خوا ورکول کیږي.

د لا زیا تو معلوماتو او یا د خپرونو د لاسته راوړلو لپاره په دې پته تما س ونیسی.
د څیړنې او ارځونې اداره:
د ګل فروشی کوڅه (د ۲می کوڅی ګوښه) نوی ښار کا بل، افغانستان.
ټیلیفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰) ۹۳+
زموږ بریښنا پاڼه او آدرس: www.areu.org.af / areu@areu.org.af